له پيشرو خپرونی نه
۱۰/۱۰/۱۵

## کابل بانـک: لوټ، فساد او دولتي ملاتړ

اقتصاد پوه، فردريک لوردون، باور لري چي « د دوه لسيزو راپديخوا، دولتونه دومره د پانګی په اسارت کې راغلي دي چي اوس قادر نه دي له دې اسارت  څخه ځان وژغوري، مګر دا چي له بانکونو په بی تحمله توګه زيان ومومي.»

کابل بانک چي د افغانستان د لومړني خصوصي بانکونو څخه شميرل کيږي، د هماغه لومړيو څخه يې د جوړيدني هدف او موخه په ښکاره توګه معلومه وه: مالي اشرافيت او سياسي اليګارشي. د دې بانک اصلي بنسټ ايښودونکو د مالي اشرافيت د جوړوني او په ورته وخت کې د سياسي اليګارشي رامنځته کولو لپاره په سياسي حاکميت کې د ملاتړو د موندلو لپاره پښې لوځي او ډېر ژر وتوانيدل د حامد کرزي ورور (محمود کرزی) او د قسيم فهيم ورور (حسيين فهيم) د دې اشرافيت يوه برخه وګرځوي او د د دې دواړو د سياسي امتيازاتو څخه ګټه پورته کړي، څه چي کابل بانک وکړای شول په برياليتوب سره يې تر سره کړي. کابل بانک وکړای شول د دې دوو له لارې دولتي قراردادونه تر لاسه کړي او په ټوله مانا د حامد کرزي د دولت ننګه او ملاتړ حاصل کړي.

د دې ملاتړ د حاصلولو په بدل کې کابل بانک ټل د دولت د مالي ملاتړ کوونکي په توګه عمل کړی او د ولسمشرۍ په ټاکنيزه سيالۍ کې په بشپړه توګه د حامد کرزي او قسيم فهيم څخه مالي ننګه وکړه او دا ننګه تر هغه کچې پياوړی وه چي د دې بانک د عامل هيئت رئيس، خليل الله فروزي د واشنګټن پوست سره په څرګنده توګه وويل  که کابل بانک نه وي، نو د حامد کرزي دولت به هم نه وی. په دې ظاهراً ساده عبارت کې هغه لوی مفهوم او حقيقت پروت دی چي د طبقاتي دولتونو ماهيت جوړوي. په طبقاتي دولتونو کې دا مالي اليګارشي (بانکونه يا د ونډې بازارونه) دي چي حاکميت جوړوي او حاکميت د مالي اليګارشی د بقا لپاره د دولت ټولي سرچينې په خلاص لاس کاروي.

په طبقاتي دولتونو او په ځانګړې توګه په هغه دولتونو کې چي د بهرنيو په ملاتړ رامنځته کيږي، بانکونه د سياست او قوانينو د جوړوني تر ټول لويه مرجع ګڼل کيږي. په داسې دولتونو کې اکثرا د مخدره موادو کارټلونه او د مافيايي اقتصاد چلوونکي د تورو پيسو له لارې، مالي نظام  په خپلو منګولو کې نيسي او بيا ورو ورو سياسي بهيرونه او ګوندونه تصرفوي، د دې ګوندونو او افرادو د انتخاباتي سياليو لګښتونه ورکوي او بالاخره نه يوازې د اجرائيه قوا، بلکې د ټول دولت واک په لاس کې نيسي.

د افغانستان په شان هیواد کې چې ۸۵ فیصده خلک یې د بیوزلی او فقر د کرښې لاندې ژوند کوي، خلک دا توان او وس نلري چې سیاسي گوندونه او ټاکنیزې سیالی د مالي پلوه حمایت کړي. ان په امریکا او نورو اروپایی هیوادونو کې هم دا بیوزله خلک نه دي چې سیاسي گوندونو ته مالي مرسته کوي، بلکې شرکتونه، بانکونه، د ونډې بازارونه هغه مرکزونه دي چې د خپلو مدیرانو د ټاکنې لپاره هراړخیزه کوښښ کوي. د امریکا د جمهوري غوښتونکي گوند د پخوانی نوماند جان مکین په وینا چې «بیوزله او نیستمن خلک، سیاسي گوندونو ته هیڅ ډول مالي مرسته نه کوي.» او دا یوازې کمپنی، بانکونه او لوی سوداګر دي چې د دولتونو مالي ملاتړ کوي، څکه چې د طبقاتي ټولنې او دولتونو قوانین یوازې همدا د سپینو چکونو لاسلیک کوونکي جوړوي.
دا وخت، ورته بهیر زموږ په هیواد کې هم روان دی. د کابل بانک په اړه وروستي راپورونه په ښکاره توګه ښکاره کوي چې دا بانک د لوټ، فساد او له فساد او لوټ څخه د دولت د ملاتړ ښه بیلګه ده. دې بانک په تیرو پنځو کلونو کې نژدې ۱۳۰۰ میلیون ډالره (نژدې ۶۵ میلیارده افغانی) له خلکو راغونډی کړي دي چې د بانک د ونډه لرونکو لخوا په جایدادونو، فابریکو، ښارګوټو، شرکتونو او نورو سوداګری او په سیاسي بهیرونو کې په کار اچول شوي دي، چې برخلیک یې معلوم نه دی.کابل بانک او ورته بانکونه په افغانستان کې د لوټ تر ټولو لویه او ستره بیلګه ګڼل کیږي، څکه چې د دې بانک ونډه لرونکو د خلکو په پیسو داسې د فساد لویه کړی خپره کړی چې حقیقت یې کولای شوو د بانک په اوسني حالت او د خلیل الله فروزي په تیرو خبرو کې پیدا کړو. که چیرې دولت له دې بانک څخه حمایت ونکړي، نو د دې بانک ورشکستګي حتمي ده، څه چې دولت په هیڅ توګه نه غواړي، څکه چې په دې کار سره دولت خپل مالي ملاتړ کوونکی له لاسه ورکوي. څرنګه چې تذکر ورکړ شو، کابل بانک د ولسمشرۍ د دویمې دورې په ټاکنیزه سیالیو کې د خلکو په پیسو اوسني حاکمیت ته مالي مرسته ورسوله چې دا په خپله د فساد یوه لویه بیلګه ګڼل کیږي.
د کابل بانک چاروکي چې د دولت پوره ملاتړ له څان سره لري، په تیرو څو کلونو کې د ګاز ګروپ، پامیر هوایی شرکت، هیواد وال شرکت، د استقلال ښارګوټی، شاهین ایکسچینج، غوري سمنت او داسې نورو لسګونو سوداګریو کې هغه پیسې په کار اچولي چې د خلکو امانات ګڼل کیږي. او اوس چې د دې پیسو برخلیک معلوم نه دی او کابل بانک د جدی ستونزو سره مخامخ شوی دی، د مالیي چارو وزارت د سرچینو په وینا، دولت څو سوه میلیونه ډالره دې بانک ته بیلې کړي چې د خلکو امانات وربانديې پرې کړي، او دا بی له دې چې  له فساد او لوټ څخه د دولت ملاتړ وښیي، بله مانا نلري. که داسې نه وي، نو دولت ولې او په کوم حق، عامه پیسې د یو خصوصي بانک د ژغورنې لپاره کاروي، شاید هم د دولت استدلال په دې اړه قانوني اساس ولري!!
په هر صورت، په طبقاتي ټولنې او دولتونو کې، بانکونه د خلکو د لوټولو او فساد سرچینې دي او دولت په ټول توان سره هڅه کوي چې په هر ډول، څه په مالي او څه هم په اداري مرستو، دا د لوټ او فساد مرکزونه خوندي وساتي، څه چې کټ مټ زموږ په هیواد کې د کابل بانک په اړه دم مهاله ادامه لري.